قرآني بيان

# د مِعراج پهٔ شپه

# د الله پاک دیدار

(پاره:27، سورةُ النجم:11/13)

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه إمام مساجد (دعوتِ إسلامي)
لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ 16 جنوري، کال 2026ء

(متوقع اسلامي تاريخ: 26 رجب شريف، کال 1447ھ)

د جُمعَةُ المبارک

د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ 16 جنورۍ، کال 2026ء (متوقع اِسلامي تاریخ: 26 رجب شریف، کال 1447ھ) د جُمعَةُ المبارک

قرآني بیان

پهٔ نوم

(پارہ:27، سورۃ النجم:11/13)

# د مِعراج پهٔ شپه د اللّٰه پاک دیدار

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ـــ د دُنیا د ټولو نه اوږد او د ټولو نه مختصر سفر
- ـــپادري د مِعراج ګواهي ورکړه
- ـــ د اللّٰه پاک د دیدار پهٔ باره کښې حدیثونه مبارک
- ـــ د اللّٰه پاک د دیدار کولو وظیفه

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ؕ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ ؕ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ آلِهٖ وَسَلَّمَ قَالَ: مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُصَلِّيْ عَلَيَّ إِلَّا صَلَّتْ عَلَيْهِ الْمَلَائِكَةُ مَا صَلَّى عَلَيَّ، فَلْيُقِلَّ الْعَبْدُ مِنْ ذٰلِكَ أَوْ لِيُكْثِرْ۔

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** مسلمان چې د څو پورې په ما باندې دُرُود شريف لولي فرښتے په هغهٔ باندې رحمتونه لیږي، اوس د بنده خوښه ده کم لولي او که زيات۔ [1]

| | |
|---|---|
| عاصیو! جرم کی دوا ہے درود | کیا دوا عینِ کیمیا ہے درود |
| ایک ساعت میں عمر بھر کے گُناہ | کرتا معدوم اور فنا ہے درود |
| چھوڑیئو مت درود کو کافیؔ | راہِ جنّت کا راہنما ہے درود |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْكَرِيْم (الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي):

مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَاٰى ﴿۱۱﴾ اَفَتُمٰرُوْنَهٗ عَلٰى مَا يَرٰى ﴿۱۲﴾ وَلَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰى ﴿۱۳﴾

(پارہ:27، سورۂ النجم:13/11)

---

[1] ... ابن ماجه، کتاب اقامه الصلاة ...الخ، باب الصلاة على النبى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم، صفحه:152، حديث:907۔

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِیُّ الْكَرِيْم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: زړهٔ هغې ته دروغ اونهٔ وئیل څهٔ چې (سترګو) ولیدل، نو آیا تاسو هغهٔ سره د هغه پهٔ لیدلي شوي جګړه کوئ، او هغهٔ خو هُغه نظاره [جلوه] دوه ځله ولیدله۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دُنیا د ټولو اوږد---! خو د ټولو نه مختصر سفر

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! زمونږه او ستاسو د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د معراج سفر د دُنیا د ټولو نه اوږد او ډیر مختصر سفر دے۔ دا مبارک سفر اوږد خو دومره دے چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مکے مکرمې نه روان شو، مسجدِ اقصیٰ ته یـې تشریف یوړلو، بیا د هُغه ځائے نه وړومبي اسمان ته، بیا دویم، دریم، څلورم، پینځم، شپږم او اوؤم اسمان ته لاړو، د هلته نه یـې سِدرَۃُ الْمُنتَھیٰ ته تشریف یوړلو، بیا د هُغه ځائے نه مقامِ مُستویٰ، بیا عرشِ عُلیٰ، بیا یـې د هُغه ځائے نه مقامِ دَنیٰ (یعني لامکان) ته تشریف یوړلو۔ دا پهٔ لکونو کلومیټره سفر دے۔ بلکې د اسمانونو چې کوم سفر دے، پهٔ سائنس کښې د دې پیمائش د رڼا پهٔ رفتار سره کیږي۔ د سائنسي تحقیق مطابق دا وخت پهٔ کائنات کښې د ټولو نه زیات رفتار د رڼا دے۔ رڼا پهٔ یو سیکنډ کښې 3 لاکهه کلومیټره مزل کوي او د نمر د رڼا زمکې ته پهٔ رارسیدو کښې 8.3 منټه لګي، یعني د نمر نه د زمکې پورې فاصله 14 کروړه 94 لاکهه کلومیټره ده، بیا نمر هم د وړومبي اسمان نه ډیر ښکته دے، اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د زمکې نه د سِدرَۃُ الْمُنتَھیٰ فاصله د 50 زره کاله پهٔ مزل ده، د دې نه پس مُستَویٰ، د هغې نه پس الله پاک ته معلومه ده، د هغې نه پس د عرش 70 حجابونه دي، د هر یو حجاب نه د بَل حجابه پورې 500 کاله فاصله ده۔ [1] دا ټوله 35 زره کاله فاصله شوه، 35 زره کاله لاره دا، 50 زره

1... ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، صفحه:439۔

کاله لاره د زمکې نه د سِدرَةُ الْمُنتهىٰ پورې دا تهوله 85 زره کاله فاصله شوه، بيا د سِدرَةُ الْمُنتهىٰ نه د عرش د حجابونو پورې څومره فاصله ده دا چا ته معلومه نهٔ ده- حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عرش نه مخکښې د کوم ځائے پورې تشريف يوړلو، د دې نه هم څوک خبر نهٔ دي، غرض دا چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دومره پهٔ زرګونو لکونو کاله لرې لاړو هم او واپس يـې تشريف هم راوړلو- غرض دا د دې سفر اوږد والے دے چې دومره اوږد سفر کوم چې څو کروړه کلو ميټره دے- بيا د دې سره ډېره د حيرانتيا خبره ده چې دا د دُنيا د تهولو نه اوږد سفر ډېر مختصر هم وو، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لامکان ته تشريف يوړلو، بيا يـې واپس هم تشريف راوړو او وخت څومره تير شوے وو؟ يو څو سيکنډه، بستره مبارکه يـې لا ګرمه وه، د دروازے کُنډه لا خوزيدله-

تفصيل سے کی سیر مگر اِس پہ یہ طُرّہ
اِک پل میں یہ طے ہو گیا رستہ شبِ مِعْرَاج
زنجیر درِ پاک کی ہِلتی ہوئی پائی
اور گرم تھا وہ بستر شبِ مِعْرَاج (1)

يو شاعر دلته ډېره ښکلې خبره کړې ده، ليکلي يـې دي:

رُک گئی ہے آج نبضِ جہاں
اُن کی ہستی نکل گئی ہو گی

**وضاحت:** اصلي خبره دا ده چې زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کائنات رُوح دے، رُوح چې لاړ شي نو وجود وډريږي، دغه شان چې کله رُوحِ کائنات، فَخرِ موجودات صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کائنات نه ووتو او د لامکان طرف ته يـې

---

1...قبالۂ بخشش، صفحه:126۔

تشريف يوړلو نو کائنات ودريدو، هر څيز ودريدو، بيا چې کله رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم واپس تشريف راوړو نو کائنات بيا ژوندے شو او هر څيز بيا حرکت شروع کړو۔

وہ جو نہ تھے تو کچھ نہ تھا، وہ جو نہ ہوں تو کچھ نہ ہو
جان ہیں وہ جہان کی جان ہے تو جہان ہے (1)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د مِعراج پهٔ شپه د الله پاک ديدار

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د معراج سفر د ډيرو حيرانوونکو واقعاتو مجموعه ده، پهٔ دې سفر کښې رسولِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام له جَمعه هم ورکړله، د اسمانونو سيل يې هم اوکړو، جنَّت ته يې د ديدار شرف هم عطا کړو، د دوزخ او د دوزخيانو عذابونه يې هم وليدل، داسې نورې هم ډيرې واقعې دي کومې چې د معراج پهٔ شپه رامخې ته شوې۔ البته د دې سفر مبارک چې د ټولو نه کومه اهمه مرحله ده، پهٔ اصل کښې چې د څهٔ د پاره دا سفر وشو، هغه د محبوبِ خُدا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله پاک پهٔ بارګاه کښې حاضري ده۔ رَبِّ کريم پهٔ دغه شپه خپل خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خاص قُرب ته وغوښتلو او بغير د حجاب (يعنې بغير د څهٔ پردې نه يې) پهٔ وينښه، د سَر پهٔ سترګو خپل ديدار ورکړو۔

الله پاک فرمائي:

مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَاٰى ﴿١١﴾ (پاره:27، سورۂ النجم:13/11)

**ترجمهٔ کنزُالعِرفان:** زړهٔ هغې ته دروغ اُونهٔ وئيل څهٔ چې (سترګو) وليدل۔

---

1...حدائقِ بخشش، صفحه:178۔

يعنې د دوارِو جهانو سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې څهٔ وليدل، د هغوئي زړهٔ مبارک هم د هغې تصديق اوکړو، مطلب دا دے چې نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپل رَبّ کريم د سَر پهٔ سترګو باندې وليدلو، د زړهٔ نه يې وپيژندلو او پهٔ دغه پيژندلو کښې هغوئي بالکل څه شک اونکړو۔ [(1)]

| | |
|---|---|
| اَفَتُمٰرُوْنَهٗ عَلٰى مَا یَرٰى ﴿۱۲﴾ (پاره:27، سورۃالنجم:13/11) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: نو آيا تاسو هغهٔ سره د هغهٔ پهٔ ليدلې شوي جګړه کوئ۔ |

دا د مکے مکرمې غير مسلمو ته خطاب دے، د مکے والؤ د معراج د واقعې نه اِنکار کړے وو، نو هغوئي ته وفرمائيلے شو: اے د مکے والؤ! اے مشرکانو--!! زمونږه خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې څهٔ وليدل، تاسو پهٔ دې باره کښې د هغوئي سره جګړه کوئ--!! [(2)] واورئ!

| | |
|---|---|
| وَلَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰى ﴿۱۳﴾ (پاره:27، سورۃالنجم:13/11) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او هغه خو هُغه نظاره [جلوه] دوه ځله وليدله۔ |

يعنې رسولِ ذِيشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هُغه جلوه صرف يو ځل نهٔ بلکې بيا بيا وليدله۔ [(3)]

## د مکے والؤ د سوالونو جوابونه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا هم يو حقيقت دے چې کله چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د معراج د سفر نه واپس تشريف راوړو نو د مکے والؤ د دې واقعې ډير مخالفت اوکړو۔ دوئي پهٔ خپله توګه د دې پوره کره کتنه اوکړه، اسمان، سدِرۃُ

1...صراط الجنان، پاره:27، سورۂنجم، زير آيت:11، جلد:9، صفحه:553۔

2...صراط الجنان، پاره:27، سورۂنجم، زير آيت:12 13، جلد:9، صفحه:555خلاصةً۔

3...صراط الجنان، پاره:27، سورۂنجم، زير آيت:12 13، جلد:9، صفحه:555۔

المُنتَهیٰ، عرش او کُرسي وغيره نهٔ خو دوئي ليدلي وو، نهٔ بل چا ليدلي دي- البته بَيتُ المُقَّدس دوئي ليدلے وو او دوئي ته دا هم معلومه وه چې محبوبِ ذِيشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چرې هم بَيتُ المُقدَّس ته تشريف نهٔ دے وړے- نو دوئي د معراج د واقعې د تصديق د پاره د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه مختلفې پوښتنې اوکړې- چا پوښتنه اوکړه چې هلته څومره دروازې دي؟ چا ووئيل چې د بَيتُ المُقَدَّس رقبه څومره ده؟ چا پوښتنه اوکړه چې د بَيتُ المُقَدَّس ګنبد څومره اوچت دے؟ (1)

اَللّٰہُ اَکۡبَر! څومره فضول پوښتنې دي، د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ خليفه حضرت علامه ظَفرُ الدِّين بهاري رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: عامه شان خبره ده، انسان چې کله يوې ودانۍ ته ځي نو د هغهٔ حيثيت مختلف وي، دا د انجنيئر کار وي چې کله هغه يوې ودانۍ ته لاړشي نو د هغه پام دې خبرو ته وي، هغه سوچ کوي چې ودانې څومره اوچته ده؟ ديوالونه څومره پلن دي؟ د ودانۍ رقبه څومره ده؟ څومره دروازې دي؟ کوم کَس چې د بَل څهٔ مقصد د پاره لاړشي، د هغهٔ پام بالکل د دې څيزونو طرف ته نهٔ وي، او بيا خو د محبوبِ ذِيشان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم معامله ډيره جُدا ده، پهٔ رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې پهٔ دغه شپه د الله پاک خاص جلوې وې، پهٔ هُغه خاص حالت کښې بلکې پهٔ عامو حالاتو کښې هم د بَيتُ المُقَدَّس دروازې شميرل، پهٔ رقبه باندې غور کول، د ګنبد د اوچت والي سوچ کول د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نبوت د شان خلاف وو- (2) نو پهٔ **حديثِ شريف** کښې دي: کله چې دې خلقو د بَيتُ المُقَدَّس پهٔ باره کښې داسې فضول پوښتنې اوکړې نو رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دې بَيتُ المُقَدَّس نخښې بيانول شروع کړل، د دې پورې چې پهٔ بعضو خبرو کښې د هغوئي شَک شو نو بَيتُ المُقَدَّس د هغوئي مخې ته کړے شو، هغوئي

1...تاريخ خميس، رکن ثاني، جلد:1، صفحه:582-

2...تحفۀ معراج النبی، صفحه:334 335-

به هغې ته كتل او د يو يو خيز پهٔ باره كښې به يــې بيانول، كله چې رسولِ اكرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هر څهٔ ووئيل نو خلقو چغې كړې: د څو پورې چې د نخښو خبره ده، پهٔ خُدائے مو دې قَسم وي چې هغه بالكل صحيح دي۔ (1)

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ممکن | ہی | نہیں | عقلِ | دو | عَالَم | کی رسائی |
| ایسا | دیا | اللہ | نے | رُتبہ | شبِ | مِعْرَاج (2) |

*–*–*–*

| | | | |
|---|---|---|---|
| اللہ کی عنایت | مرحبا | معراج کی عظمت | مرحبا |
| آقا کی رِفعت | مرحبا | آسماں کی سیاحت | مرحبا |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اللّٰه پاک د ديدار پهٔ باره كښې حديثونه مبارك

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** زمونږه خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د معراج پهٔ شته په وينبه ، د سَر پهٔ ستركو پهٔ پوره هوش او حواس كښې يــې د خپل رَبِّ كريم ديدار اوكړو او پهٔ داسې شان سره يــې اوكړو چې

| | |
|---|---|
| مَازَاغَ الْبَصَرُ وَ مَا طَغٰى ﴿۱۷﴾ (پارہ:27، سورۂ النجم:13/11) | ترجمهٔ كنزُالعِرفان: ستركه نهٔ كوم طرف ته تاؤ شوه او نهٔ د حد نه واوُختله۔ |

❁ پهٔ **مسند امامِ احمد** كښې د صحيح سند سره **حديثِ پاک** دے، رسول اللّٰه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: رَأَيْتُ رَبِّي تَبَارَكَ وَتَعَالَى ما خپل رَبِّ كريم وليدلو۔ (3) ❁ امام دِيلَمي

---

1…مصنف ابن ابي شيبة، كتاب الفضائل، جلد:7، صفحه:422، 423، حديث:62 خلاصةً۔

2…قبالۂ بخشش، صفحه:125۔

3…مسند امام احمد، مسند بنی ہاشم، مسند عبد الله بن العباس، جلد:2، صفحه:218، حديث:2631۔

رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د حضرت جابِر عبد الله رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت لیکلے دے، سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: اِنَّ اللهَ اَعْطٰى مُوسٰى الْكَلَامَ وَاَعْطَانِي الرُّؤْيَةَ بے شکه الله پاک موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ته د خپل کلام شرف ورعطا کړو او ما ته یې د دیدار نعمت راعطا کړو۔ [1] د حضرت عبد الله بن مسعود رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ آلِهٖ وَ سَلَّم قَالَ لِیْ رَبِّیْ نَحَلْتُ إِبْرَاهِيمَ خُلَّتِی، وَكَلَّمْتُ مُوسٰى تَكْلِيمًا، وَأَعْطَيْتُكَ يا مُحَمَّدُ كِفَاحًا۔ یعني رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: ما ته زما رَبِّ کریم وفرمائیل: ما ابراهیم خپل خلیل جوړ کړو، موسیٰ ته مې د خپل کلام شرف ورعطا کړو او اے **خوږه محبوبه** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! **تاسو ته مې بغیر د حجاب نه د خپل دیدار شرف درعطا کړلو۔** [2]

سُبْحٰنَ الله! د دې حدیثونو نه معلومه شوه چې پهٔ ویښه، د سر پهٔ سترګو بغیر د څهٔ پردې نه د الله پاک دیدار کول، زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خصوصي شان دے۔

تبارک اللہ شان تیری، تجھی کو زیبا ہے بےنیازی
کہیں تو وہ جوشِ لن ترانی، کہیں تقاضے وِصال کے تھے
بڑھ اے مُحَمَّد! قریں ہو احمد! قریب آ سرورِ مُمَجَّد
نِثار جاؤں! یہ کیا ندا تھی، یہ کیا سماں تھا، یہ کیا مزے تھے [3]

## [ د ټولو رسولانو نه اعلیٰ زمونږ نبي ]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دلته یوه ډېره ښکلې او ایمان تازه کوونکې نکته ده۔ د

---

1...مسند الفردوس، جلد:1، صفحه:162، حدیث:600۔

2...تاریخ ابن عساکر، باب ذکر عروجه الی السماء...الخ، جلد:3، صفحه:517۔

3...حدائقِ بخشش، صفحه:234 بتقدم وتاخر۔

الله پاک ديدار نا ممکن نهٔ دے، اِنْ شَآءَاللّٰہُ الْکَرِیم! پهٔ اخرت کښې به د هر جنتي د الله پاک ديدار نصيب کيږي بلکې د جَنَّت چې خومره نعمتونه دي، پهٔ هغې کښې د ټولو نه اعلىٰ نعمت د الله پاک ديدار دے- اوس لږ غور اوکړئ چې د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام نه واخله د حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام پورې چې خومره هم انبيائے کرامو عليهمُ السّلام تشريف راوړے دے، بيا به د هغوئي د اُمت د ايمان والا، مونږه ګنهګاران اِنْ شَآءَاللّٰہُ الْکَرِیم! پهٔ جَنَّت کښې د رَبِّ کريم د ديدار سعادت حاصلوو، خو لږې فاصلې وشميرئ! ❀ ورومبے خو د دې دُنيا د سختو نه ډک ژوند ❀ بيا د ځنکدن حالت ❀ عالَمِ برزخ (يعني پهٔ قبر) کښې زرګونه کاله اوسيدل، بيا قيامت، د قيامت 50 زره کاله اوږده ورځ، بيا د هغې نه پس به اِنْ شَآءَاللّٰہُ الْکَرِیم! جَنَّت ته تلل نصيب کيږي، بيا به د هُغه ځائے پهٔ نعمتونو کښې د ټولو نه اعلىٰ نعمت د الله پاک ديدار نصيب کيږي- غرض دا چې نورو انسانانو ته چې کوم نعمت به د دومره مرحلو تيريدو نه پس عطا کولے شي، زمونږ او ستاسو خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته هُغه نعمت د دُنيا پهٔ دې ژوند کښې عطا کړے شو او عطا هم پهٔ داسې شان سره شو چې

قرباں میں شان و عظمت پر، سوئے ہیں چین سے بستر پر
جبریلِ امیں حاضِر ہو کر معراج کا مژدہ سُناتے ہیں (1)

سُبْحٰنَ الله! دا دے زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ځانګړے شان--!! ځکه خو مونږه وايو:

| | |
|---|---|
| سب سے اولیٰ و اعلیٰ ہمارا نبی | سب سے بالا و اعلیٰ ہمارا نبی |
| اپنے مولیٰ کا پیارا ہمارا نبی | دونوں عالَم کا دُولہا ہمارا نبی |

1...وسائلِ بخشش، صفحه:286۔

جس کو شایاں ہے عرشِ خُدا پر جلوس | ہے وہ سلطانِ والا ہمارا نبی(1)

## یو سوال او د هغې جواب

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** پۀ دې ځائے کښې یو سوال دے، د اللّٰه پاک نبي حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام چې کله کوهِ طُور ته حاضر شو او د اللّٰه پاک سره يې د کلام کولو سعادت حاصل کړو نو عرض يې اوکړو:

رَبِّ اَرِنِیْۤ (پاره:9، سورۀ اعراف:143) | **ترجمهٔ کنزُالعِرفان:** اے زما رَبّه! ما ته خپله نظاره وښایه۔

اللّٰه پاک وفرمائيل:

لَنْ تَرٰىنِیْ (پاره:9، سورۀ اعراف:143) | **ترجمهٔ کنزُالعِرفان:** (اللّٰه) وفرمائيل: تۀ به ما هیڅ کله اُونۀ ليدلے شې۔

بیا يې پۀ کوهِ طُور باندې یوه جلوه وفرمائیله، کوهِ طُور ذرې ذرې شو او حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام د جلوې پۀ تاب نۀ راوړو بے هوشه شو۔

دا صرف یوه جلوه وه، کومه چې حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام پۀ پوره توګه نۀ وه ليدلې، د دې يوې جلوې د ليدو دومره اثر وشو چې حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام به مخ مبارک پۀ نقاب باندې پټولو، د هغوئي پۀ مخ مبارک باندې د دې جلوې فیضان دومره وو چې هغوئي به خپل مخ پۀ نقاب باندې پټولو، چا چې به هغوئي بغير د نقاب نه ليدلو نو جلوې به يې نۀ شوې برداشت کولے۔ د دې پورې چې کله د حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام د دُنيا د تللو وخت راغلو نو د هغوئي کور وداني محترمې عرض اوکړو: زۀ د 40 کالو نه ستاسو سره يم، مهرباني اوکړئ نن خو راباندې خپل ديدن اوکړئ! حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام چې د خپلې کور ودانې

---

1...حدائقِ بخشش، صفحه:138۔

محترمې دا بے تابه ارمان واوريدو نو د مخ مبارک نه يـې نقاب لرې کړو، کور وداني محترمې چې يـې کله د هٔغه جلوې فيضان وليدو نو برداشت يـې نکړے شو او د الله پاک پهٔ حُضُور کښې سر پهٔ سجده شوه۔ [1]

اَللّٰهُ اَکْبَر! دا صرف د يوې جلوې فيضان دے او جلوه هم هٔغه کومه چې پهٔ کوهِ طُور فرمائيلے شوې وه۔ اوس سوال دا دے چې زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خو د معراج پهٔ شپه صرف يوه جلوه نهٔ بلکې پخپله د رَبِّ کريم ديدار اوکړو، بغير د حجاب نه يـې اوکړو، د سر پهٔ سترګو يـې اوکړو او پهٔ يو نظر د سترګو رپولو نه بغير يـې اوکړو، د دې باوجود به رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مخ پهٔ نقاب کښې نهٔ پټولو، نهٔ به د هغوئي پهٔ نُوراني مخ ليدو څوک بے هوشه کيدو---؟ اخر پهٔ دې کښې څهٔ راز دے---؟؟

صوفيائے کرامو د دې سوال ډير د کمال جواب ورکړے دے۔ اِمام قُشَيرِي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ليکلي دي: دا خبره د حضرت يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام د معاملې پهٔ شان ده، د هغوئي پهٔ ليدو د مصر زنانو خپلې ګوتې پريکړې وې خو هٔغه خلق کوم چې د هغوئي سره اوسيدل، شپه ورځ به يـې د هغوئي ديدن کولو، هغوئي چرې هم خپلې ګوتې پرې نکړې۔ [2]

د خبرې مطلب دا دے چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم معراج صرف يو ځل نهٔ دےنکړے بلکې د خوب پهٔ ذريعه کم او زيات 34 ځله معراج شوے او د څو پورې چې د انوارو او جلوو خبره ده نو هغه خو به پهٔ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې شپه ورځ راوريدلې۔

## د انوارو او جلوو باران

يو ځل سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د يو صحابي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د

---

1...تاريخ ابن عساکر، رقم:7741، موسىٰ بن عمران بن يصهر بن قاهث، جلد:61، صفحه:174۔

2...کتاب المعراج، باب ذکر الاسئلة في المعراج، صفحه:67 خلاصةً۔

جنازې کولو د پاره لاړو، کله چې يـې واپس تشريف راوړو نو سيده عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللہُ عَنْہا پهٔ کور کښې وه، هغې زر يوه کپړه راواخسته، پهٔ سر يـې کړه او د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هر کلي د پاره دالان ته راغله، څهٔ ګوري چې هر طرف ته باران راوريږي خو د رسولِ ذِيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جامې مبارکې بالکل وچې دي- پهٔ حيرانتيا سره يـې پوښتنه اوکړه: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! بهر باران وريږي خو ستاسو جامې مبارکې وچې دي، پهٔ دې کښې څهٔ حِکمت دے؟ اوئې فرمائيل: عائِشه! تا دا څهٔ پهٔ سر کړي دي؟ عرض يـې اوکړو: دا ستاسو څادر مبارک دے، پهٔ تادیٖ کښې دا لاس ته راغلو، ما هم دا پهٔ سر کړو- اوئې فرمائيل: دا لرې کړه! سيده عائِشه رَضِیَ اللہُ عَنْہا چې څادر د سر نه کوز کړو او اوئې کتل نو هلته هيڅ باران نهٔ وو، ډيره حيرانه شوه، سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: اے عائشه! دا د الله پاک د انوارو او جلوو باران دے، کوم چې هر وخت راوريږي، تا چې زما څادر پهٔ سر کړو نو ستا سترګې روښانه شوې او تا دا باران پهٔ سترګو وليدو- (1)

سُبْحٰنَ الله! **خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** دا دے زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شان چې پهٔ هغوئي باندې خو هر وخت د انوارو او جلوو باران راوريږي- نتيجه دا راوتله چې لکه څنګه هُغه خلق کوم چې شپه ورځ د حضرت يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام د حُسن د ليدو سره عادت وو، هغوئي پهٔ حيرانیٔ کښې ګوتې پرې نکړې، دغه شان هُغه صحابهٔ کرام رَضِیَ اللہُ عَنْہُم کوم چې د انوارو او د جلوو د مرکز يعني د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نُوراني مخ د ليدو سره عادت وو، هم دا وجه ده چې د معراج پهٔ شپه د الله پاک د ديدار کولو باوجود نهٔ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام پهٔ شان مخ پهٔ نقاب کښې د پټولو ضرورت پيښ شو او نهٔ صحابهٔ

1...مثنوی معنوی، قصه سؤال کردن عایشه...الخ، صفحه:72 خلاصةً-

کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم چرته د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ مخ لیدو باندې بے هوشه شو، هلته د دې نُوراني مخ پهٔ لیدو کښې یوه مزه وه، کومه چې به صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم ډیر پهٔ شوق سره اخستله۔

## د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم اوچت شان

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د دې نه د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم پهٔ فضیلت باندې هم غور اوکړئ چې صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم هغه دي چې د ټول اُمت لوئي لوئي اولیائے کرام راجمع شي، دا ټول پهٔ شریکه د یو صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ مقام ته هم نشي رسیدے، اخر د دې څهٔ وجه ده؟ صرف او صرف هم دا وجه ده چې دې د اوچتو مرتبو خلقو د هٔغه مبارکو سترګو زیارت کړے دے، کومو سترګو چې د رَبِّ کریم دیدار کړے دے او د سترګو رپولو نه بغیر یې کړے دے۔

| | | | |
|---|---|---|---|
| هر صحابيِ نبي! | جَنَّتي جَنَّتي | ټولي صحابیاتي هُم! | جَنَّتي جَنَّتي |
| څلور یاران د نبي! | جَنَّتي جَنَّتي | حضرتِ صدیق هُم | جَنَّتي جَنَّتي |
| او عُمر فاروق هُم | جَنَّتي جَنَّتي | عُثمانِ غني | جَنَّتي جَنَّتي |
| فاطِمه او علي | جَنَّتي جَنَّتي | دي حسن حُسین هُم | جَنَّتي جَنَّتي |
| والدین د نبي | جَنَّتي جَنَّتي | هره بي بي د نبي | جَنَّتي جَنَّتي |
| دے مُعاوِیه هُم | جَنَّتي جَنَّتي | او ابو سُفیان هُم | جَنَّتي جَنَّتي (1) |

## هٔغه جلوه یې بیا بیا ولیدله---!!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د معراج پهٔ شپه الله پاک د سَر پهٔ سترګو ولیدو، د سترګو رپولو نه بغیر یې ولیدو او صرف یو ځل

1...وسائلِ فردوس، صفحه:53۔

یـې نهٔ بلکې الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَلَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰىۙ(۱۳) (پارہ:27، سورۃالنجم:13/11) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او هغه خو هٔغه نظاره [جلوه] دوه ځله ولیدله۔ |

مفسرينِ کرام فرمائي: دا د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام والا واقعې طرف ته اِشاره ده، (1)

**د بُخاري شريف حديثِ پاک دے:** د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: د مِعراج پهٔ شپه الله پاک پهٔ ما باندې پهٔ ورځ او شپه کښې 50 نـمونځونه فرض کړل، کله چې زهٔ د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام خوا له راغلم نو هغوئي ووئيل: ستاسو رَبّ ستاسو په اُمَّت باندې څه فرض کړي دي؟ ما ووئيل: پهٔ هره شپه او ورځ کښې يـې 50 نـمونځونه فرض کړي دي۔ حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ووئيل: د خپل رَبّ خوا له لاړ شئ او دا نـمونځونه پرې کـم کړئ، ستاسو اُمّت به 50 نـمونځونه ادا نهٔ کړے شي ځکه چې ما پهٔ بني اسرائيلو ازميښت کړے دے (پهٔ هغوئي باندې پهٔ ورځ او شپه کښې 2 نـمونځونه فرض وو کوم چې هغوئي ادا نهٔ کړے شو نو ستاسو اُمّت به 50 نـمونځونه څنګه ادا کوي)۔ زمونږه خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: زهٔ د خپل رَبّ خوا له واپس لاړم او عرض مې اوکړو: يَا رَبَّه! زما پهٔ اُمّت باندې څهٔ اساني اوکړې ، الله پاک 5 نـمونځونه کـم کړل، زهٔ بيا د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام خوا له راغلم او اومې وئيل چې الله پاک 5 نـمونځونه کـم کړل۔ بيا حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام هم هٔغه خبره اوکړه تر دې چې پهٔ کميدو کميدو صِرف 5 نـمونځونه پاتې شول، نو الله پاک وفرمائيل: خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! په شپه او ورځ کښې دا 5 نـمونځونه دي او پهٔ دې کښې به د هر نـمونځ 10 چنده اَجر ميلاوئيږي لهذا دا نـمونځونه (به په ادا کولو کښې 5 وي خو د اَجر او ثواب په لحاظ سره ) هم 50 وي۔ (2)

---

1...تفسير نور العرفان، پاره:27، النجم، زير آيت:13، صفحه:840 خلاصةً۔

2...بخاری، کتاب مناقب الانصار، باب المعراج، صفحه:977، حديث:3887 خلاصةً۔

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا دے زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارک شان--!! د معراج پهٔ شپه رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 10 ځله د الله پاک پهٔ بارګاه کښې حاضر شو، یو خو وړومبۍ حاضري شوه، بیا یـې د حضرت موسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام پهٔ خواست 9 ځله د حاضرۍ سعادت حاصل کړو- سُبْحٰنَ الله!

قصرِ دنیٰ تک کس کی رسائی | جاتے یہ ہیں، آتے یہ ہیں

او یو عاشقِ رسول وئیلي دي:

اَوج پانا مرے حُضُور کا ہے | عرش جانا مرے حُضُور کا ہے
عرش سے بھی پرے وہ ہو آئے | آنا جانا مرے حُضُور کا ہے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## نـمونځ د مؤمِن مِعراج دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دلته پهٔ دې خبره باندې هم غور اوکړئ چې نـمونځ څومره اهم عبادت دے- الله پاک خپل محبوبِ ذِیشان صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپلې خاص بارګاه ته پهٔ تنهایۍ کښې وغوښتو، څومره انتظام اوکړے شو، بیا چې د هلته نه د خوږ محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښکلي اُمت د پاره کومه تحفه راولیږلے شوه، هغه دا ښکلے نـمونځ دے- او د کرم خبرې ته وګورئ چې پهٔ مونږ باندې صرف 5 نـمونځونه فرض دي خو د دې ثواب د 50 نـمونځونو برابر ساتلے شوے دے- سُبْحٰنَ الله!

پهٔ مِرقَاة الـمَفَاتِیح کښې دي: اَلصَّلَاةُ مِعْرَاجُ الْمُؤْمِن نـمونځ د مؤمِن مِعراج دے- (1)

دا څومره زبردست کرم دے---! مونږ ته د نـمونځ ډالۍ میلاؤ شوه او نـمونځ د مؤمِن معراج دے، اوس د قیامته پورې پهٔ مسلمانانو باندې دا کرم وشو چې پهٔ ژوند کښې یو

1...مرقاةُ المفاتیح، کتاب الصلاة، صفحه:421، حدیث:746-

ځل نۀ، کال پس نۀ، مياشت پس نۀ بلکې هره ورځ پينځه ځله بنده اودس کوي، جومات ته حاضري کوي، پۀ توجه سره، پۀ عاجزئ او انکسارئ سره، د زړۀ د اِخلاصه نـمونځ کوي، د خپل خوږ الله پاک پۀ بارګاه کښې حاضري کوي، سر پۀ سجده شي او د الله پاک سره د کلام سعادت حاصل کړي- سُبْحٰنَ الله! دا دے د مُسلمان مِعراج---!

| | |
|---|---|
| ہر عبادت سے بَرتَر عبادت نَماز | ساری دولت سے بڑھ کر ہے دولت نَماز |
| قلبِ غمگیں کا سامانِ فَرحت نَماز | ہے مریضوں کو پیغامِ صِحَّت نَماز |
| نارِ دوزخ سے بے شک بچائے گی یہ | رب سے دلوائے گی تم کو جنَّت نَماز |
| پیارے آقا کی آنکھوں کی ٹھنڈک ہے یہ | قلبِ شاہِ مدینہ کی راحت نَماز |
| بھائیو! گر خُدا کی رِضا چاہیئے | آپ پڑھتے رہیں باجماعت نَماز (1) |

## د معراج د تحفې قدر اوکړئ!

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د تولې زمانې دستور دے چې خلق د تحفو [يعنې د ډالو] قدر کوي، خاص طور چې تحفه د غټ شخصيت نه ميلاؤ شي نو هغه سمبال کيږدي او پۀ خپل قِسمت باندې ناز کولے شي- د دې اُلټا چې څوک د تحفو [يعنې د ډالو] قدر نۀ کوي يا د ډالئ ورکوونکې مننه نۀ کوي نو دې خلقو ته پۀ معاشره کښې پۀ ښه سترګه نه کتلے کيږي- زۀ چې د کومې ډالئ طرف ته ستاسو پام راګرځول غواړم هغه د مخلوق نۀ بلکې د کائنات د خالق الله پاک راکړے شوې [تحفه] ده کومه چې د معراج پۀ شپه د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ ذريعه مسلمانانو ته عطا کړے شوه، دا ډالئ د دواړو جهانوسردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپلو سترګو يخ والے ګرځولے دے- (2)

---

1...وسائلِ فردوس، صفحہ:22۔

2...نسائی، کتاب عشرۃ النساء، باب حب النساء، صفحہ:644، حدیث:3945۔

اوس مونږ له غور کول پکار دي چې مونږ د دې معراج د ډالۍ څومره قدر کوؤ- آه! افسوس! نن سبا د نـمونځ هډو فِکر نهٔ کيږي، زياتره مسلمانان د نـمونځونو نه لرې دي او کوم چې نـمونځ کوي، پهٔ هغوئي کښې هم يوه شميره د داسې خلقو ده، کوم يـې چې کله کوي کله يـې نهٔ کوي يا دوه، درې يا څلور کوي، پينځهٔ پوره نهٔ کوي، کوم چې پينځهٔ واړه پوره کوي، پهٔ هغوئي کښې هم يوه شميره ده کوم چې جُمعه پريږدي، پهٔ جومات کښې د جُمعې سره نـمونځ نهٔ ادا کوي- کاش! چې زمونږه د دې معراج د تحفې قدر نصيب شي-

## د معراج پهٔ شپه يـې عذاب وليدلو

**پهٔ روايتونو کښې دي:** خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د معراج پهٔ شپه د داسې خلقو خوا له تشريف يوړلو د کومو سرونه چې به پهٔ کاڼو چقيدل، کله به چې هم هغه وچقولے شول هغه به د مخکښې پهٔ شان صحيح شول او دا سلسله به هم دغه شان روانه وه نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پوښتنه اوکړه: اے جبرائيله! دا څوک دي؟ عرض يـې اوکړو: دا هُغه خلق دي د کومو سرونه چې به پهٔ نـمونځ کولو درَنيدل (يعني فرض نـمونځونه به يـې) پريښودل- (1)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** که سر معمولي شان زخمي شي نو بنده درديږي نو مَعَاذَالله! د نـمونځ قضا کولو پهٔ شکل کښې که چرې د هغه نازک سر فرښتو چقول شروع کړو نو د هغهٔ به څهٔ کيږي! **کاش! کاش! کاش!** چې ټول مسلمانان پاخه نـمونځ ګزاره جوړ شي-

| | |
|---|---|
| بے نمازی جہنّم کا حقدار ہے | بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز |
| قبر میں سانپ بچھو لپٹ جائیں گے | بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز |
| سہہ سکو گے نہ دوزخ کا ہرگز عذاب | بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز |

1...مسند بزار، جلد:17، صفحه:5، حديث:9518۔

## د الله پاک د دیدار کولو وظیفه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** مونږه واوریدل چې الله پاک د مِعراج پهٔ شپه خپل خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د خپل دیدار شرف عطا کړلو او صرف یو ځل نهٔ بلکې رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د یو نه زیات ځل د الله پاک د دیدار شرف حاصل کړو۔ دلته دا خبره یاد ساتئ چې پهٔ دُنیا کښې پهٔ ویښه، د سر پهٔ سترګو باندې الله پاک لیدل، صرف او صرف زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خصوصي شان دے، د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه علاوه پهٔ دُنیا کښې څوک هم پهٔ ویښه د سر پهٔ سترګو د الله پاک دیدار نشي کولے۔ البته پهٔ دُنیا کښې د خوب پهٔ حالت کښې د الله پاک دیدار نصیب کیدل ممکن هم دي او د ډیرو علمائے کرامو دا شرف نصیب شوے هم دے، مثلاً زمونږه د امام، امامِ اعظم ابو حنیفه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ خوب کښې د الله پاک دیدار نصیب شوے، [(2)] د امام احمد بن حنبل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ خوب کښې 100 کرته د الله پاک د دیدار سعادت نصیب شوے۔ [(3)]

مدعا دا ده چې پهٔ دُنیا کښې د خوب پهٔ حالت کښې د الله پاک لیدل ممکن دي، مونږ له هم پکار دي چې پهٔ خپل زړهٔ کښې د الله پاک د دیدار کولو شوق زیات کړو۔ پهٔ **حدیثِ پاک** کښې دي: مَنْ اَحَبَّ لِقَاءَ اللهِ اَحَبَّ اللهُ لِقَائَهٗ څوک چې د الله پاک سره ملاقات خوښوي، الله پاک د هغهٔ ملاقات خوښوي۔ [(4)]

---

1...وسائلِ فردوس، صفحه:23۔

2...اشعة اللمعات، باب روية الله تعالیٰ، جلد:4، صفحه:425۔

3...حیاة الحیوان الکبریٰ، باب الهمزة، الانسان، جلد:1، صفحه:58۔

4...الزهد لابن المبارک، الجزء السابع، باب فضل ذکر الله، صفحه:290، حدیث:971۔

علمائے کرام رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم فرمائي: **(1):** څوک چې روزانه د سورهٔ آل عمران تلاوت کوي او اودهٔ کيږي اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! يو نه يو ورځ به يې پهٔ خوب کښې د الله پاک ديدار نصيب کيږي **(2):** او څوک چې د 40 جُمعو پهٔ شپو (يعني د زيارت او د جمعةُ الـمبارک پهٔ مينځنۍ شپه) سورهٔ طٰهٰ ولولي، اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! پهٔ خوب کښې به يې د الله پاک ديدار نصيب کيږي۔ [1]

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** شعبان شريف تشريف راوړونکې دے، ډيره د برکتونو، عظمتونو والا مياشت ده خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې ته **شَهرِی** يعني زما مياشت فرمائيلې ده، ځکه شعبان ته د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مياشت هم وئيلے کيږي ❀ شعبانُ الـمعظم څنګه تيرول پکار دي---؟ ❀ پهٔ دې کښې څهٔ نيک اعمال کول پکار دي---؟ ❀ د دې څهٔ فضائل دي---؟ ❀ د دې برکتونه څهٔ دي---؟ د دې ټولو نه د ځان خبرولو د پاره د شيخِ طريقت اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه رساله **آقا کا مهينه** ضرور ولولئ۔

الله پاک دې زمونږه د نيک کار کولو، د شوق او ذوق او د ايمان خوند نصيب کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

مانندِ شمع تیری طرف لو لگی رہی | دے لطف میری جان کو سوز و گداز کا [2]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## قرآن ټيچر موبائل ايپلي کيشن

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د **دعوتِ اِسلامي** ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي

---

1...تحفه معراج النبی، صفحه:183۔

2...ذوقِ نعت، صفحه:18۔

کیشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې دے: **قرآن ټیچر**(***Quran Teacher***)۔ پهٔ دې اپیلي کیشن طالبِ علمان د درسِ نظامي، فیضانِ نماز کورس او زکوٰۃ کورس پهٔ شان د بے شمیره آن لائن کورسونو د پاره رجسټریشن کولے شي ❁ پهٔ ایجوکیشن پورټل (***Educational Portal***) کښې د خپل آن لائن کلاس د حلو ځلو پهٔ باره کښې ځان خبر ساتلے شي ❁ تاسو هم د خپلې خوښې مطابق د هر یو کورس انتخاب کولے شئ او بغیر د څهٔ مشکل نه د آن لائن قرآن زده کولو د پاره داخله اخستے شئ۔ ❁ د دعوتِ اِسلامي پهٔ دې پلیټ فارم باندې تقریباً 55 اِسلامي کورسونه کولے شي۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

**د بیان پهٔ اخره کښې راځئ چې یوه شرعي مسئله زده کړو:**

## صحیح څهٔ دي؟

(د صحیح شرعي مسئلې یا پهٔ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پهٔ ګوته کول)

**مسئله:** د پاکو دَستانو پهٔ لاس کولو سره نـمونځ کول جائز دي۔

**وضاحت:** د یخنۍ موسم دے، بعضې وخت خلق پوښتنه کوي چې د دَستانو پهٔ لاس کولو سره نـمونځ کولے شو که نهٔ، د بعضو پوښتنه وي چې ګرم څادر کوم چې مو اچولے وي، لاسونه د هغې نه لاندې پټولے شو که نهٔ۔ پهٔ دې باره کښې مسئله واورئ! پهٔ عامو حالاتو کښې د نارینه د پاره بهتر دا دي چې پهٔ نـمونځ کښې لاسونه ښکاره کړے شي۔ البته شریعت مونږ له سهولت راکړے دے چې د یخنۍ وغیره پهٔ وجه باندې پهٔ لاسونو پټولو (مثلاً پهٔ دَستانو اچولو یا پهٔ اچولے شوي څادر کښې پهٔ لاسونو پټولو) هم نـمونځ کولے شي، دا بالکل جائز دي۔ [1] زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

1...فتاوٰی اہلسنت (غیر مطبوعه)، فتویٰ نمبر: Pin 7380۔

هم د يخنۍ پهٔ وجه پهٔ لاسونو پټولو نـمونځ ادا کړے، حضرت وَائِل بِن حُجر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: ما نبي پاک، صاحبِ لولاک صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ نـمونځ کولو وليدو- نبي کريم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې کله نـمونځ شروع کړو نو خپل لاسونه يـې اوچت کړل او تـکبير تحريمه يـې ووئيلو، بيا يـې هغه پهٔ کپړې سره پټ کړل (مثلاً د څادر وغيره نه يـې لاندې کړل)- (1)

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او پهٔ هغې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظيفه)

### يَا مَاجِدُ

څوک چې **يَا مَاجِدُ** 10 کرته ولولي او پهٔ شربت وغيره باندې يـې دَم کړي او وه يـې څښي اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! هغه به نهٔ بيماريږي- (2) الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

1... مسلم، کتاب الصلاة، باب وضع يده اليمنیٰ علی اليسریٰ...الخ، صفحه:157، حديث:401۔

2... مدنی پنج سوره، صفحه:255۔